سلطان جان کلیوال ۲۰۲۰/۰۲/۰۸

# د وروری خبره

یولاس که راکوی، نو درکوم دواړه لاسونه
د دار خبـره نه ده ، د وروری خبره ده

ناپوه په دی دنیا کی، نشته بل له ما او تا
همـدا زما او ستا، د مجبوری خبره ده

غربت چی کله ډیرشی، عقل شی ورسره کم
ددوه ورونو جګړه هم، دخواری خبره ده

پردي چي مسلط دي، هم په تا اوهم په ما
پوهیږئ ؟ دا زمونږ د کمزوری خبره ده

ته ماوژنه غازی یی، اوزه ستا پمرګ غازی
فتوې دي د لندن، یا لاهوری خبره ده

ده ورانه فیصله، چی کروندې شی هدیرې
د ژوند سره همدا، د بی غوری خبره ده

ټګي برګي دوستۍ کې، دستورنه دي کلیواله

اخلاص چې پکې نه وي، بازارۍ خبره ده

فبروری/۳/۲۰۲۰

تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

یادونه:

که چیرې ګران لوستونکي و غواړي چې د دې شاعر او لیکوال نورې لیکنې او سرودونو هم ولولي، نو کولای سې چې، پر انځور باندې د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکي مقالې او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لاز ښودنه تر لاسه کړي!

د وروړۍ خبره
S_klewal_de_wororay_khabara.pdf